# بُست

## علمي او څېړنيزه مجله

ټوک : دريم
گڼه : دوهمه
کال : ۱۴۰۳

بسم الله الرحمن الرحيم

# بُست علمي او څېړنیزه مجله

**بُست پوهنتون**

**دریم ټوک – دوهمه ګڼه**

**کال – ۱۴۰۳**

# بُست علمی او څېړنیزه مجله

# بُست پوهنتون

**د امتیاز خاوند:** بُست پوهنتون

**مسئول مدیر:** ډاکټر ذبیح الله انوري

**سردبیران:** پوهندوی دوکتور علي احمد احمدي او خان محمد وفا

**د مجلې بورډ**

- ✓ پوهندوی دوکتور عبدالوهاب حکمت
- ✓ پوهندوی عبدالعزیز صابر
- ✓ پوهنمل حنیف الله باوري
- ✓ پوهاند دوکتور خال محمد احمدزی
- ✓ پوهندوی رضوان الله مملوال
- ✓ ارسلان وطندار
- ✓ پوهنیار بشیر احمد بابازوی

**کتنپلاوي**

- ✓ پوهنوال دوکتور احمد جاوید پویش
- ✓ پوهنوال نقیب الله مجددي
- ✓ پوهندوی دوکتور نجیب الله مجددي
- ✓ پوهندوی دوکتور علی احمد
- ✓ پوهندوی دوکتور غلام رسول فضلي
- ✓ پوهندوی نیاز محمد زاهدي
- ✓ پوهندوی ګل محمد اعظمي
- ✓ پوهندوی عبدالولي هجران
- ✓ پوهنیار عبدالولي همت
- ✓ خان محمد وفا
- ✓ ډاکټر ذبیح الله انوري

**ډیزاین:** د بُست پوهنتون د څېړنیزو او فرهنګي چارو مدیریت

د خپرولو کال: ۱۴۰۳

**درک:** بُست پوهنتون، لښکرګاه، هلمند، افغانستان

# د بُست پوهنتون د رئیس پیغام

په نني ژوند کې د یوې علمي مؤسسې یو له مسؤلیتونو څخه دا دی ، چې نه یواځې خپل محصلان د پوهې په گاڼه سمبال کړي، بلکې د پوهنتون د لوړو زده کړو لرونکو پوهانو او استادانو د علمي زیرمتون څخه داسې څه وخت په وخت راوباسي، چې د ټولنې د ژوند د اړتیاوو د پوره کولو لپاره او یا لږ تر لږه د ټولنې د لوستي قشر د خبرولو او که وکولای شي له هغوی څخه د عمل په ډگر کې د گټې اخیستنې په موخه ، په کار واچول شي.

و دې موخې ته د رسیدلو لپاره پوهنتون باید یو داسې علمي خپرندویه ارگان ولري، چې په هغه کې د پوهنتون ټول با صلاحیته منسوبین که هغه استاد وي، که کارکوونکی او که زده کړه یال ، خپلې علمي او څېړنیزې مقالې او لیکنې د کاغذ پر مخ باندې کښیښودلای شي.

زما په شخصي آند پدې مجله کې لکه له نوم څخه چې یې ښکاري، باید داسې مسائل را برسیره شي، چې نه یواځې په پوهنتون پورې راگیر پاتې شي، بلکې په عام ډول سره د افغاني ټولنې او په ځانگړي ډول سره د هلمند ولایت د اوسیدونکو و نني او سبا ژوند ته په کتلو سره، بریالیتونونه، ستونزې ، وړاندیزونه او د حل لارې-چارې ، وړاندې کړل شي.هغه وخت به د بُست پوهنتون علمي مجله یواځې د بست پوهنتون نه، بلکې د ټول هلمند ولایت ، آن د سیمې او ټول افغانستان په کچه د پوهې او څېړنې په برخه کې د وخت د غوښتنو سره سم ، د پاملرنې وړ او ځوان نسل ته د یوې سمې لارې د ښودلو په موخه ، یوه محبوبه او پر زیاتو خلکو باندې گرانه مجله وي او په ټول هیواد کې به خپل مینه وال ولري.

دا مجله به د بُست پوهنتون د مشرتابه، استادانو ، محصلانو ، فارغانو او ټولو مینه د علمي او څېړنیزو مقالو د خپرولو لپاره که هغوی د پوهې په هر ډگر کې چې وي، یو خپرنیز ارگان وي،چې و خپریدلو ته به یې ټول مینه وال په تمه ناست وي.څومره به پرځای او ښه خبر وي، چې د ټولنې لوستی قشر په تیره بیا د بست پوهنتون محترم استادان ، فارغ شوي او بر حاله محصلان د علمي او څېړنیزو مقالو و لیکلو ته و هڅول شي.

زه د بُست پوهنتون د ټولو منسوبینو په استازیتوب ویاړ لرم ، چې د بُست پوهنتون د علمي مجلې د خپریدلو له امله د محترم مؤسس، محترم علمي مرستیال او د څېړنې له محترم آمر او همدا رنگه د مجلې له ټولو کارکوونکو او پرسونل څخه د زیار او زحمت په گاللو سره چې مجله یې و خپریدلو ته چمتو کړې ده ، مننه او قدرداني وکړم، ټولو ته د زړه له کومې مبارکي وایم او هیله لرم چې د بُست پوهنتون د علمي مجلې کارکوونکي به خپل رسالت د پوهنتون او ټول هلمندې ولس او په اخری تحلیل کې د ټول افغان ملت پر وړاندې په پوره او ټینگ عزم سره سرته ورسوي.

**په درنښت**

**ډیپلوم انجنیر محمود سنگین**

**د بُست پوهنتون رئیس**

## سریزه

بُست پوهنتون ویاړ لري چې د خپل علمي پرمختګ په لاره کې یې یو بل ډېر مهم او اړین ګام پورته کړ او هغه د بُست د علمي او څېړنیزي مجلې د دریم ټوک، دوهمي ګڼې خپرېدل دي . تر هر څه دمخه د پوهنتون ټولو استادانو، محصلانو او د علم او پوهې د لوی کور مینه والو ته د بُست د علمي او څېړنیزي مجلې د خپرېدلو مبارکي وړاندې کوم او ددې سره جوخت د ټولو ملګرو څخه چې ددې مجلې د جواز په تر لاسه کولو، ترتیبولو او خپرولو کې یې نه ستړې کېدونکې ونډه اخیستې ده د زړه له کومې مننه کوم.

د علمي کور کهول او اړوند کسانو ته ښکاره ده  او پوره باور لري چې د نننی نړۍ هر اړخیزه پر مختګ د پوهانو د علمي څېړنو د زیار له برکته ممکن سوی او د لوړو زده کړو مؤسسي، اکادمیک انستیتوتونه او څېړنیز علمي مرکزونه پکښې مرکزي او پریکنده رول لوبولی دی.

همدې اصل او ارزښت ته په کتو سره بُست پوهنتون غواړي د پرمختللو اکاډمیکو نورمونو په رعایت د تدریس، علمیڅېړنو او نوښتونو له لاري مسلکي کادرونه وروزي  او د معیاري تحصیلي اسانتیاوو او زمینو په برابرولو سره د ټولنې ځوانانو ته معیاري او د لوړ کیفیت لوړې  زده کړي وړاندی او د علمیڅېړنو پر بنسټ د کره پوهنیزو اثارو د تولید زمینه برابره کړي ، ترڅو د لوړو زده کړو او مسلکي پوهې په ډګر کې د ګټورو مهارتونو په تر لاسه کولو او د خپلو رښتینو اهدافو په لاسته راوړلو سره د ټولنې او هیواد په پرمختګ او رغونه کې رغنده ونډه واخلي او د رښتیني خدمت جوګه شي.

ژمن یو چې د هلمند ولایت، ګاونډیو ولایتونو او په ټول هیواد کي ځوان نسل ته د اسلامي ، ملي او کلتوري ارزښتونو په رڼا کي معیاري د علمي او مسلکي لوړو زده کړو او پراخو علمي څېړونو زمینه برابره او ټولني او هیواد ته ژمن او روزل سوي کادرونه وړاندي کړو.

د اوس لپاره د بُست علمي او څېرنیزه مجله یوازي د **سائینسي علومو** په برخه کې علمي او څېړنیزي مقالي او لیکني د چاپ او نشر د تګلارې سره سم مني او خپروي او هیله مند یو چې په راتلونکې کي به نوري برخي هم ور زیاتي کړل سي.

ډاډ لرم چې د بُست پوهنتون استادان، محصلان او علمي کارمندان به انشأالله، نن، سبا او په راتلونکې کې د خپلي علمي څېړنیزي مجلې د خپرولو له لاری خپل دغه دروند خو  ویاړلی دین (پور) ادأ کړي. همدا ډول ټولو د علم او پوهي څښتنانو او مینه والو ته  په مینه سره بلنه ورکوو چي ددی علمي او څېړنیزي مجلي او د بُست پوهنتون د پرمختګ په لاره کي خپلي علمي او څېړنیزي لیکني، آندونه، وړاندیزونه او رغنده  نیوکي  او مرستي د تل په شان  راولوروئ  او د علم  ددې ستر کور په ودانولو کي د خپلي دیني، او ملي برخي د اداینې ویاړ راوبخښئ.

موږ هوډ کړیدي او هیله مند یو چي انشآ الله  د وخت په تیریدو سره به د خپل هیواد و بچیانو او ځوان نسل ته د تدریس ، ښه روزني او څېړنیز هاند لپاره  اړیني او د پام وړاسانتیاوي برابري کړو تر څو په لومړي پړاو کښي خپلو هلمندوالو بیا د سهیل لویدیځي حوزي او په پاي کښي و ټولو هیوادوالو ته د یو داسي چوپړ مصدر وګرځي چي زموږ د ځوریدلي اولس او ویجاړشوي هیواد اقتصادي، فرهنګي، سیاسي او ټولنیزي ستونزي حل او افغانستان د نړي د پرمختللوهیوادونو په لیکه کي ودریږي.

# لړلیک

| د مقالې عنوان | د صفحې شمیره |
| --- | --- |


د پلاستیک په واسطه د محیط ککړتیا او په لښکرګاه ښار کې د پلاستیکي کڅوړو د مصرف اندازه ------- 1

پوهندوی عبدالولي هجران[۱*]، حبیب الرحمن[۲]، بریالي[۳]، افتخار[۴]

د هلمند ولایت په مارجه ولسوالۍ کې د پنبې پر تولید د وچکالۍ اغېزې ---------------------------------------- 7

پوهندوی دوکتور علي احمد[۱*] او ارسلان وطندار[۲]

Introduction to Farm Management and Its Importance --------------------------------------------- 16

Sayed Abdul Wahab Saeedi[1*] and Mir Wais Nazari[2]

په افغانستان کې مشهوره زهري نباتات او پر اهلي حیواناتو باندې د هغو منفي اغیزې -------------------- 28

محمدالدین خادم[۱*]، پوهنیار عبدالفهیم سروري[۲] او پوهنمل محمدآمان احمدزي[۳]

د لښکرګاه ښار په دوو کلیوو کاریز او قلعه بُست کې د انګورو پرتله کولو اقتصادي تحلیل کال (1403) ----- 38

پوهنوال نقیب الله مجددي[۱*]، ارسلان وطندار[۲]، پوهنیار بریالی رفیع[۳]

An Overview of Introduction, Importance and Types of Natural Resources -------------- 52

Dr. Mohammad Shafi Akhundzada[1*] and Mir Wais Nazari[2]

د هلمند ولایت په باباجي ولسوالۍ کې د ریحانو د تولید لګښت، ناخالصه ګټه، خالصه ګټه او مارکیټینګ چینلونو تحلیل ( کال ۱۴۰۲ ) --- 61

پوهندوي دوکتور علي احمد[۱*] او امان الله نیازی[۲]

د هلـــــمند ولایت په ناوې ولسوالۍ کې د پنبې د تولید اقتصادي تحلیل کال (۱۴۰۲) --------------- 71

میرویس نظري[۱*] او محمدالدین خادم[۲]

د سردار ګل محمد خان صنعتي پارک د ودې پر وړاندې خنډونه --------------------------------------- 80

ارسلان وطندار[۱*]، پوهندوی دوکتور علي احمد[۲]، عبدالقدیر خادم[۳]

د هلمند ولایت د اوبو د سپما طرحه ------------------------------------------------------------------ 88

محمد یوسفي[۱*]، ګل احمد احمدي[۲]، فیض محمد فیضي[۳]، عبدالحنان اغا[۴]، شیراغا خپلواک[۵]،
خیرالله مزمل[۶] او محمد اقبال[۷]

# د هلمند ولایت په باباجي ولسوالۍ کي د ریحانو د تولید لګښت، ناخالصه ګټه، خالصه ګټه او مارکیټینګ چینلونو تحلیل ( کال ۱۴۰۲ )

پوهندوي دوکتور علي احمد[۱*] او امان الله نیازی[۲]

[۱]کرنیز اقتصاد او ترویج څانګه، کرهنې پوهنځی، هلمند پوهنتون

[۲]اداره او تجارت څانګه، اقتصاد پوهنځی، بُست پوهنتون

**د مسؤل ایمیل ادرس:** aada.aliahmad@gmail.com

## لنډیز

دا څېړنه د هلمند په ولایت کي د ریحانو د تولید اقتصادي تحلیل کال (۱۴۰۲ل.ل) سرلیک لاندي په ۱۴۰۳ لېږدیز لمریز کال کي ترسره سوې ده. د څېړني عمده موخي د ریحانو د تولید لګښت معلومول، مجموعي او خالص عواید تحلیل کول، د ریحانو د مارکیټینګ د چینلونه موندل او د ریحانو په تولید کي خنډونه او حل لاري وړاندي کول دي. د څېړني لپاره مو د هلمند ولایت باباجي ولسوالي په قصدي ډول انتخاب کړه، (۶۰) تنه ځواب ورکوونکي مو په تصادفي ډول وټاکل او پنځه کلي مو په تصادفي ډول انتخاب کړه، ترڅو د یادو ځواب ورکوونکو(کروندګرو) څخه د مرکو او پوښتنپاڼو له طریقه لومړني معلومات ترلاسه کړو. د دوی کروندې مو په دریو کټګوریو ویشلي وې (کوچني ۱-۲جریبه )، (میانه ۲-۳جریبه) او (لوی ۳-۴ جریبه) کروندې، چي د هري کروندې لپاره مو (۲۰) کسان انتخاب کړه. د څېړني په نتیجه کي مو دا وموندل چي د کوچني، میانه او لویي کروندې د تولید لګښت په ترتیب سره (6275)، (19188) او (30191) افغانی په اوسط ډول دي. د کوچني، میانه او لویي کروندې ټوله عواید په ترتیب سره (32400)، (59824) او (97487) افغانی په اوسط ډول په لاس راغلي دي. د کوچني، میانه او لویي کروندې خالص عواید په ترتیب سره (26125)، (40636) او (67296) افغانی په اوسط ډول دی او د مارکیټینګ دوه چینلونه مو و موندل (تولید کوونکي، عمده فروش، پرچون پروش، مصرف کوونکي ) او (تولید کوونکي، عمده فروش، تجار)، اوبو کموالی، دکیمیاوي درملو بې کیفیتي، دکیمیاوي کود ګرانښت، دکروندګرو عامه پوهاوي ته د دولت نه پاملرنه، منظم مارکیت نشتوالی او افتونه، دریحانو د عمومي ستونزو څخه عبارت دي.

**کلیدي کلیمې:** ریحان، د تولید لګښت، مجموعي عواید، خالص عواید،چینلونه او ستونزي.

## سريزه

ريحان د يوناني کلمي باسيليوس څخه اخيستل سوي چي معنی يې د"پاچا" ده. علمي نوم يې (Ocimum basilicum) دی، د Lamiaceae کورنۍ پوري اړه لري، دې بوټي د شاهي بوی له امله دا لقب ګټلی دی. نور نومونه يې Best Holy - Sweet Basil دی او د زياتو انواعو درلودونکی دی. د اول ځل لپاره د مصر په احرامونو کي پيدا سوه او همدارنګه يې د پاڼو څخه خلګو د عطرو په جوړولو کي ګټه اخيستل. يوکلن نبات دی چي ارتفاع يې تقرباً 60cm ده. زيات ښاخونه لري د ځينو ريحانو پاڼي نصواري او د ځينو د بيا شني وي. تازه پاڼو 2cm عرض او 5cm متره اوږدوالی لري.

د ريحانو تخم په پسرلي کي کرل کيږي، کله چي يې موږ په ځمکه کي کرو د ريحانو د بوټو تر منځ فاصله بايد د 15-30 cm وساتل سي، 7- 5ورځو په موده کي يې تخم شين کيږي. يوځل کود بايد تطبيق سي کله چي يې د ګل غوټۍ ښکاره سي او د نبات د ژوند مفيده دوره هم ورسره شروع کيږي( عتيق الله، ۱۳۸۵ ). په هند او سويلي آسيا کي د تورو او خوږو ريحانو په نوم پيژندل کيږي. د خواږه مرکب بوي او درملو جوړونکو لخوا مشخص سوي دي. خواږه ريحان په عطرو، وېښتو مينځلو، خولي مينځلو، د غاښونو کريم او د خوشبو اجزا وو په توګه کارول کيږي. په هند کي دا د پخلي د بوټو په توګه نه کارول کيږي، مګر يو قوي مذهبي معنی لري. د اړينوغوړيو په مختلفو نوعو کي پېچلي او متغير جوړښت لري. ريحان مختلف کيمياوي نسلونه شتون لري. عضوي او غير عضوي سرې، اقليم، خاوره او د کرلو وخت، نه يوازي د ريحان د حاصلاتو په مقدار، بلکې د اړينو تيلو په جوړښت هم اغيزه کوي. اوسنی څېړنه د ريحانو له بوټو څخه د اړينو تيلو، حاصلاتو، د ګټي لګښت تناسب تحليل کولو لپاره ترسره سوې. په هند کي ريحان په شاوخوا 3000 هکتاره ځمکه کي په اتر پرديش، هريانا او پنجاب ايالتونو کي کرل کيږي، مګر اوس د دې نبات د کښت کولو اړتيا وړ تيلو لرونکي نباتاتو په توګه د مديا پرديش په لويو سيمو کي کرل کيږي (Archana et al., 2009).

### د ريحانو غـذايـي ارزښت:

ريحان په ډېرو غذا ګانو کي استعماليږي، چي د اشپزی د خوندورتوب لپاره کارول کيږي. همداشان د ريحانو له غوړيو څخه د مريضانو لپاره په درملو کي لکه د زړه ناروغي، کلمو، پښتورګو د ناروغيو لپاره استفاده کيږي (Egata., 2021).

### د نړۍ په کچه د ريحانو عمده توليد کوونکي هيوادونه:

په(۱ جدول) کي ليدل کيږي. يوه څېړنه چي د نړۍ لـس غوره توليد کوونکي هيوادونه پکښې ښودل سوي دي، دا د نړۍ هغه غوره توليد کوونکي هيوادونه دي چي تر ټولو ډېر ريحان توليد او پروسس کوي (Nguyen., 1989).

**۱ جدول: د نړۍ په سطحه د ريحانو لس غوره توليد کوونکي هيوادونه**

| ګڼه | کلونه | توليد کوونکي هيواد |
|---|---|---|
| 1 | 1997 | Russia |
| 2 | 1989 | Thailand |
| 3 | 1989 | America |
| 4 | 2004 | Japan |
| 5 | 2005 | Miscer |
| 6 | 2006 | Srilanka |
| 7 | 2007 | CHINA |
| 8 | 2008 | INDIA |
| 9 | 2011 | Iran |
| 10 | 2016 | Viet nam |

**Source : (Nguyen, 2017)**

**په افغانستان کي د ريحانو د توليد کچه:** په (۲ جدول) کي ليدل کيږي، يوه څېړنه چي د سمون لخوا په (۲۰۲۳) کال کي ترسره سوې، چي د افغانستان د ځينو ولايتونو د ريحانو د توليد اندازه ټن/هکتار باندي ښيي، چي په ترتيب سره په هلمند ولايت کي 8342/762 په کندهار ولايت کي 8760/800، په اروزګان ولايت کي 3832/350 او همدارنګه په جلال آباد کي 14380/420، په فراه ولايت کي 5014/490 ټنه پر هکتار باندي حاصلات لاسته راغلي دي( سمون،۲۰۲۳).

**۲ جدول: په افغانستان کي د ريحانو توليد**

| شماره | ټولټال تولید ( ټن ) | د تولید ساحه (هکتاره) | ولایتونه |
|---|---|---|---|
| 1 | 8342 | 762 | هلمند |
| 2 | 8760 | 800 | کندهار |
| 3 | 3832 | 350 | اروزګان |
| 4 | 4380 | 420 | جلال آباد |
| 5 | 5014 | 490 | فراه |

سرچینه: ( سمون، ۲۰۲۳ )

**د ستونزې بیان:**

زموږ په هیواد کې یوه غټه ستونزه دا ده، چې د ریحانو مارکیټ د یو څو نفرو په لاس انحصار سوی دی. د ریحانو پر تولید باندي د منظم مارکیټ او پروسیس نشتوالی زیات کروندګر دې ته اړ کړي دي، چې دوی خپل حاصلات په ارزانه بیه خرڅ کړي او یا یې نورو هیوادونو ته صادر کړي، د ریحانو پر تولید باندي د کیمیاوي او حیواني سرو د بیو زیاتوالی دی، نو ځکه کروندګر په زیاته کچه تولید لاسته نسي راوړلای او د کرنیزو ماشین الاتو او ابیارۍ ستونزو کروندګر د دې سره مخ کړي دي، چې د تولیداتو په زیاتوالي کې کموالی راسي او د ریحانو داصلاح سویو ورایټو کموالی او د کیمیاوي درملو داستعمال په اړه کروندګرو ته عامه پوهاوی نه دی ورکړل سوی، نو له دې امله نسي کولای چې لوړ حاصلات لاسته راوړي.

**د څېړني اهمیت:**

افغانستان یو کرنیز هیواد دی، چې د غلجاتو برسیره د تیلی او صنعتي نباتاتو د کرنیزو تولیداتو یو ستر برخه تشکیلوي، چې هرکال یې یوه زیاته اندازه له هیواده بهر نورو هیوادونو ته صادروي. افغانستان د تیلی او صنعتي نباتاتو زانګو ګڼل کیږي، ځکه چې د یو زیات شمیر تلی او صنعتي نباتاتو اصلي ټاټوبی ګڼل کیږي. د تیلی او صنعتي نباتاتو د روزولو له پلوه افغانستان یو ښه حاصل ورکوونکي هیواد دی، ځکه چې د همدې تیلی او صنعتي نباتاتو لپاره دافغانستان اقلیمي شرایط خورا په زړه پوري دي. دا چې دافغانستان زیاتره سیمي په ژمي کې سړې او په دوبي کې ګرمې وي، نو دا اقلیمي شرایط د تیلی او صنعتي نباتاتو د روزولو لپاره خورا مناسب بلل کیږي، د څېړني د موخو پر بنسټ غواړم چې د هلمند ولایت باباجي ولسوالۍ کې د ریحانو اقتصادي څېړنه ترسره کړو، نو زما د موضوع اهمیت په دې کې دی، چې د دې څېړني په بشپړولو سره به ټولي هغه ستونزي وڅېړم چې د باباجي ولسوالۍ کروندګر (ځواب ورکوونکي) یې د ریحانو د تولید او بازار موندني په اړه لري او همدارنګه د عوایدو او مصارفو پرتله به یې په سم ډول وکړم او خالصه ګټه به یې په لاس راوړم او همداراز پر دې موضوع باندې په باباجي ولسوالۍ کې تر اوسه څېړنه نه ده سوې. نو بنأ د دې څېړني څخه به دولتي او خصوصي سکتورونه ګټه پورته کړي.

**د څېړني موخې:**

1. د ریحانو د تولید، لګښت، تحلیل کول.
2. د ریحانو د تولید مجموعي او خالص عواید معلومول.
3. د ریحانو د مارکیټینګ، چینلونه موندل.
4. د ریحانو په تولید او مارکیټینګ کې د ستونزو څرګندول.

**مواد او کړنلاره**

**الف: د څېړني ځای او وخت:** دا څېړنه په هلمند ولایت باباجي ولسوالۍ کې د ریحان د تولید لګښت، ناخالصه ګټه، خالصه ګټه او مارکیټینګ چینلونو تحلیل ترعنوان لا ندي په (۱۴۰۲) لېږدیز لمریز کال کې ترسره سوې ده.

**ب: د څېړني ډیزاین:** د څېړني لپاره د هلمند ولایت باباجي ولسوالۍ په قصدي ډول انتخاب کړې وه، ځکه چې په دې ساحه کې زیات ریحان کرل کیدل او څلور (۴) کلي، لکه لویه هدیره، چهار باغ، ادم زائي، نواباد، به په تصادفي ډول په نښه کړي وه او په دې ساحه کې مو (۶۰) ځواب ورکوونکي په تصادفي ډول انتخاب کړي وه او د کروندګرو(ځواب ورکوونکو) څخه مو د دوی د ځمکو اړونده معلومات د مرکو او پوښتنلیکونو له لاري راټول کړل.

**۳ جدول: د ریحانو د ګروندو کټګوري**

| دکروندي ډول (جریب) | | |
|---|---|---|
| کوچنی کروندي | میانه کروندي | لوی کروندي |
| ۱-۲ | ۲ - ۳ | ۳-۴ |

**ج: د څېړنې مواد:** په څېړنه کې مو د لومړني او دوهمي معلوماتو څخه کار واخیستی. لومړني معلومات مو د هلمند ولایت باباجي ولسوالی د کروندګرو (خواب ورکوونکو) څخه د پوښتنپاڼو او مرکوو په ډول راټول کړل او دوهمي معلومات مو د ملي او نړیوالو ژورنالونو معتبرو کتابونو، ډاټا بیسونو او ویبسایټونو څخه راټول کړل.

**د: احصایوي تحلیل:** د څېړنې راټول سوي معلومات مو د ( Excell ) پروګرام له لارې تحلیل کړل.

**اقتصادي تحلیل:**

**د خالص عاید تحلیل** (Net income analysis):

$$خالص\ عاید\ Net\ income = ټول\ عواید\ Total\ Revenue - ټول\ لګښت\ Total\ Cost$$

**د ګټورتیا نسبت** (profitability Ratio):

د ګټورتیا نسبت موږ ته د تولید د لګښتونو په مقابل کې د خالص عاید سلنه راښیي. د نوموړي نسبت ارزښت د دې څرګندونه کوي، چې د ریحانو هر کروندګر د تولید د یو واحد لګښت (یوې افغانۍ لګښت) په مقابل کې څومره خالص عواید لاسته راوړي دي. کولای سو دا نسبت په لاندې ډول سره محاسبه کړو:

$$profitablity\ Ratio = \frac{ټوله\ خالص\ عواید\ Total\ Net\ income}{تولید\ لګښت\ Total\ Production\ Cost}$$

که چیرې د ګټورتیا د نسبت ضریب د یو سره مساوي وو، د ګټورتوب معنا لري یعني کروندګرو د ریحانو د تولید څخه ګټه ترلاسه کوي. که چیرې یې ارزښت د یو څخه لوړ وو، د زیات ګټورتوب مفهوم افاده کوي. معنی دا چې کروندګر زیاته ګټه ترلاسه کوي او که چیرې دغه ضریب د یو څخه کم وو، نو داسې مفهوم ترې اخیستل کیږي چې کروندګر د پام وړ ګټه نه ترلاسه کوي.

**د لګښت ګټې نسبت** (Cost Benefit Ratio):

د لګښت ګټې نسبت هم د ګټورتیا د نسبتونو څخه دي. دا نسبت موږ ته د تولید د لګښتونو په مقابل کې د خرڅلاو د عواید اندازه راښیي. د دې نسبت ارزښت ددې ښودنه کوي، چې کروندګر د هر واحد تولید لګښت په مقابل کې څومره د خرڅلاو عواید تر لاسه کوي، هر څومره چې د دغه نسبت ارزښت زیاتیږي د زیات ګټورتوب ښودنه کوي. کولای سو نوموړی نسبت په لاندې ډول محاسبه کړو:

$$Benefit\ Cost\ Ratio = \frac{ټوله\ عواید\ Total\ Revenue}{تولید\ لګښت\ Total\ Production\ Cost}$$

**نتیجه او مناقشه**

**۱. نتیجه:**

**د ځواب ورکوونکو پیژندنه:**

په لاندې (۴ جدول) کې لیدل کیږي چې ټولټال (۶۰) کروندګرو څخه معلومات راټول سوي دي. هغه کسان چې عمرونه یې د ۲۰-۳۵ کلونو پورې وه ۴۴ کسان چې اوسط یې ۷۳.۳۳٪ سلنه جوړوي. هغه کسان چې عمرونه د ۳۵-۵۰ کلونو پورې وه ۱۰ کسان چې اوسط یې ۱۱.۶۶ سلنه جوړوي او هغه کسان چې عمرونه ۵۰ کلونو څخه لوړ وه ۶ کسان چې اوسط یې ۱۰٪ سلنه جوړوي.

**۴ جدول: عمومي معلومات**

| د ځواب ورکوونکو شمیر | د کلونو اندازه | فیصدي |
|---|---|---|
| ۴۴ | ۲۰-۳۵ | ۷۳.۳۳٪ |
| ۱۰ | ۳۵-۵۰ | ۱۱.۶۶٪ |
| ۶ | د ۵۰ لوړ | ۱۰٪ |
| مجموعه | ۶۰ | ۱۰۰٪ |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات**



**د ریحانو کوچنی، میانه او لوی کروندو تولید:** (۵) جدول کې په ترتیب سره د کوچني، میانه او لوی کروندو تولید ښودل سوی دی.

**۵ جدول: د ریحانو کوچنی، میانه او لوي کروندو تولید**

| شماره | د کروندې ډول | تولټال تولید ( کیلوګرام ) |
|---|---|---|
| ۱ | کوچنی | 405 |
| ۲ | میانه | 593.9 |
| ۳ | لوی | 909.35 |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات**

**د ریحانو د تولید لګښت (افغانی):** په (٦) جدول کې د ریحانو د کوچنی کروندې د تولید لګښت ښودل سوی دی.

**٦ جدول: د ریحانو د کوچنی کروندې د تولید لګښت**

| | | Irrigation | UREA | Chemicals | Seed | Grower | Harvest | Mola Share | Land Preparation |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| N | Valid | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 |
| | Missing | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| اوسط | | 0 | 1700 | 400 | 500 | 0 | 800 | 1620 | 1255 |
| کښته حد | | 0 | 800 | 200 | 150 | 0 | 500 | 160 | 600 |
| لوړ حد | | 0 | 8050 | 1080 | 750 | 0 | 8000 | 3250 | 2000 |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات**

**د میانه کروندې تولید لګښت (افغانی):** په (۷) جدول کې د ریحانو د میانه کروندې د تولید لګښت ښودل سوی دی.

**۷ جدول: د ریحانو د میانه کروندې د تولید لګښت (افغانی)**

| | | Irrigation | UREA | Chemicals | Seed | Grower | Harvest | Mola Share | Land Preparation |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| N | Valid | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 |
| | Missing | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| اوسط | | 3670 | 2778 | 1388 | 673 | 2735 | 1600 | 3985 | 2359 |
| کښته حد | | 680 | 500 | 300 | 300 | 850 | 700 | 2042 | 1190 |
| لوړ حد | | 9600 | 6600 | 9400 | 1500 | 6625 | 4210 | 6390 | 2680 |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات**

**د لوی کروندې تولید لګښت (افغانی):** په (۸) جدول کې د ریحانو د لوي کروندې د تولید لګښت ښودل سوی دی.

**۸ جدول: د ریحانو د لوي کروندې د تولید لګښت (افغانی) - منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات**

| | | Irrigation | UREA | Chemical | Seed | Grower | Harvest | Mola Share | Land Preparation |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| N | Valid | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 |
| | Missing | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| اوسط | | 0 | 4049 | 1634 | 850 | 8882 | 4888 | 6041 | 3847 |
| کښته حد | | 0 | 2450 | 450 | 500 | 1500 | 1250 | 3100 | 3000 |
| لوړ حد | | 0 | 8600 | 14050 | 2000 | 17250 | 7230 | 9834 | 5000 |

**په کوچنی کروندې کې د ريحانو مجموعي او خالص عوايد (افغانی):** په (۹) جدول کې د ريحانو د کوچنی کروندې مجموعي او خالص عوايد ښودل سوي دي **.۹ جدول: په کوچنی کروندې کې مجموعي او خالص عوايد (افغانی)**

| | | د ريحانو ټول عوايد | في جريب عوايد | خالص عوايد | في جريب خالص عوايد |
|---|---|---|---|---|---|
| N | valid | 20 | 20 | 20 | 20 |
| | Missing | 0 | 0 | 0 | 0 |
| اوسط | | 32400 | 32400 | 26125 | 26125 |
| کښته حد | | 14320 | 14320 | 11910 | 11910 |
| لوړ حد | | 59616 | 59616 | 36486 | 36486 |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات**

**په ميانه کروندې کې د ريحانو مجموعي او خالص عوايد (افغانی):** په (۱۰) جدول کې د ريحانو د ميانه کروندې مجموعي او خالص عوايد ښودل سوي دي. **۱۰ جدول: په ميانه کروندې کې د ريحانو مجموعي او خالص عوايد (افغانی)**

| | | د ريحانو ټول عوايد | في جريب عوايد | خالص عوايد | في جريب خالص عوايد |
|---|---|---|---|---|---|
| N | valid | 20 | 20 | 20 | 20 |
| | Missing | 0 | 0 | 0 | 0 |
| اوسط | | 59824 | 29912 | 40636 | 20318 |
| کښته حد | | 28100 | 14050 | 21538 | 10769 |
| لوړ حد | | 163250 | 81625 | 116245 | 58122.5 |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات**

**په لوی کروندې کې د ريحانو مجموعي او خالص عوايد (افغانی):** په (۱۱) جدول کې د ريحانو د لوي کروندې مجموعي او خالص عوايد ښودل سوي دي. **۱۱ جدول: په لوی کروندې کې مجموعي او خالص عوايد (افغانی)**

| | | د ريحانو ټول عوايد | في جريب عوايد | خالص عوايد | في جريب خالص عوايد |
|---|---|---|---|---|---|
| N | valid | 20 | 20 | 20 | 20 |
| | Missing | 0 | 0 | 0 | 0 |
| اوسط | | 97487 | 32495 | 67296 | 22432 |
| کښته حد | | 42180 | 14060 | 29930 | 9976 |
| لوړ حد | | 195850 | 65283 | 131886 | 43962 |

**د ريحانو د مارکېټينګ چينلونه:**

د څېړني په نتيجه کې د مارکيټينګ دوه چينلونه وموندل سول چې په لاندې ډول سره ښودل سوي دي (۲ شکل).

I. توليد کوونکي > عمده پروش > پرچون پروش > مصرف کوونکي.

II. توليد کوونکي > عمده پروش > تجار




منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات

**د ريحانو په توليد کې ستونزې:** د ريحانو د توليد ستونزې درجه بندي سوي دي چې په (۱۲) جدول کې ښودل سوي دي.

۱۲ جدول: د ريحانو په توليد کې ستونزې

| شماره | د ستونزې ډول | د ځواب ورکوونکو شمير | درجه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د اوبو کموالی | ۴۶ ( ۷٦.٦٦٪ ) | لومړی |
| ۲ | بې کيفيته کيمياوي درمل | ۴۴ ( ۷۳.۳۳٪ ) | دوهمه |
| ۳ | منظم مارکيټ نشتون | ۴۱ ( ٦۸.۳۳٪ ) | دريمه |
| ۴ | د کروندګرو عامه پوهاوی | ۳۹ (٦۵٪) | څلورمه |
| ۵ | د کيمياوي کودو لوړ قيمتونه | ۳۸ (٦۳.۳۳ ) | پنځمه |
| ٦ | آفتونه | ۳۷ (٦۱.٦٦٪) | شپږمه |
| ۷ | د دولت پاملرنه او همکاري | ۳۴ (۵٦.٦٦٪) | اوومه |

منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات

## مناقــــشه

په باباجي ولسوالۍ کې هغه کروندګر چې د 1 جريب د ريحانو کرونده لري په اوسط ډول 405 کيلو ګرام د ريحانو حاصل په يو فصل کې تر لاسه کوي. يوه څېړنه چې د هند هيواد کې د ريحانو د توليد اړوند تر سره سوې وه، د توليد اندازه يې په اوسط ډول 3237.25 کيلو ګرامه في هکتيار ښودلې ده (Thakur et al., 2014). همدا ډول د ( Archana et al., 2009) له لوري هم د هند هيواد په مديا پرديش ولسوالۍ کې لاسته راغلي پايله ښيي چې د ريحانو د کوچنې کروندې د توليد لګښت په اوسط ډول 17860 روپۍ ښودلې ده. د نومړو د تحقيق نتجه زما موندنو سره لړ ورته والی لری. د توليد مجموعي لګښت يې په اوسط ډول 6275 افغانۍ دی، د هر کوچنې سايز کروندګر د خرڅلاو مجموعي عوايد په اوسط ډول 32400 افغانۍ، خالص عوايد يې په اوسط ډول 26125افغانۍ او د هر فصل څخه پر في جريب څمکه 405 کيلو ګرامه د ريحانو حاصل تر لاسه کوي، چې د هر جريب خالص عوايد يې په اوسط ډول 26125 افغانۍ سره مساوي دي.

په باباجي ولسوالۍ کې هغه کروندې چې د 2-1 جريبه وي د توليد د لګښت د هرې افغانۍ په مقابل کې 4.16 افغانۍ خالص عايد تر لاسه

کوي. یوه څېړنه د هند په هیواد کې د ریحانو د تولید اړوند تر سوې ده، چې د هرې کرونديې د ګټورتیا نسبت یې 4.81 ښودلی دی Thakur et al., 2014) د نوموړي لاسته راغلي پایله زموږ د تحقیق سره ورته والی لري.

د لګښت د ګټې نسبت د تحلیل څخه داسې معلومیږي، چې د باباجي ولسوالی هغه کرونديې چې د 2-1 جریبه وي د تولید لګښت د هرې افغانۍ په مقابل کې 5.16 افغانۍ مجموعه عواید تر لاسه کوي. د (Thakur et al., 2014) لوري د هند په هیواد کې لاسته راغلې پایله ښيي چې د لګښت د ګټې نسبت 6.17 دی، چې زموږ د څېړني د پایلې سره ورته والی لري.

په باباجي ولسوالی کې هغه کروندګر چې 3 – 2 جریبه د ریحانو کرونديې لري په اوسط ډول 593.9 کیلو ګرامه د ریحانو حاصل په یو فصل کې تر لاسه کوي. یوه څېړنه چې د روسې په هیواد کې د ریحانو د تولید اړوند تر سره سوې ده، د تولید اندازه یې 314.2 کیلو ګرام في جریب ښودلې ده (Jeanine., 1994 ). د نوموړي د تحقیق نتیجه زما د څېړني د پایلې سره ورته والی لري. د تولید مجموعي لګښت یې په اوسط ډول 19188 افغانۍ دی. د هر میانه سایز کروندګر د خرڅلاو مجموعي عواید په اوسط ډول 59824 افغانۍ، خالص عواید یې په اوسط ډول 40636 افغانۍ دی. یوه څېړنه چې په مرکزي اروپا کې د ریحانو د تولید اړوند تر سره سوې ده، د تولید لګښت یې په اوسط ډول 18345.12 افغانۍ ښودلی دی (Andre et al., 2008). د نوموړي لاسته راغلي پایله زموږ د څېړني د پایلې سره لږ ورته والی لري. په باباجي ولسوالی کې هغه کروندګر چې 4 – 3 جریبه د ریحانو کرونده لري. په اوسط ډول 909.35 کیلو ګرامه د ریحانو حاصل په یو فصل کې تر لاسه کوي. یوه څېړنه په اصفهان ولایت کې د ریحانو د تولید اړوند تر سوې ده، د تولید اندازه په اوسط ډول 6290.5 کیلوګرامه او في جریب یې 314.52 کیلو ګرام ښودلی دی. (Onwurah et al., 2011). د تولید مجموعي لګښت یې 442791 افغانۍ دی. همدارنګه ( Sakdasri et al., 2019) له لوري یوه څېړنه د جاپان په هیواد کې د ریحانو د تولید اړوند تر سره سوې ده، د تولید لګښت یې په اوسط ډول 31867.6 ښودلی دی. د نوموړي د تحقیق پایله زموږ د څېړني د پایلې سره لږ ورته والی لري.

**پایله**

. د څېړني نتیجه کې مو دا ترلاسه کړه، چې د کوچني، میانه او لوی کروندو ټولټال تولید په ترتیب سره (۵۵۹۷.۷)، (۱۱۸۷۸)، (۱۸۱۸۷) کیلوګرامه دی.

۲. د څېړني په نتیجه کې مو دا وموندل چې د کوچني، میانه او لوی کروندو د تولید لګښت په ترتیب سره (۵۰۲۰)، (۱۹۵۷۴.۲۵) او (۲۳۹۶۶) افغانۍ په اوسط ډول دی.

۳. د څېړني په نتیجه کې مو دا مشاهده کړل چې د کوچني، میانه او لوی کروندو د ټوله عواید په ترتیب سره (۳۲۴۰۰)، (۵۹۸۹۴.۸) او (۹۷۴۸۷.۷) افغانۍ په اوسط ډول ترلاسه سوي دي.

۴. د څېړني په نتیجه کې مو دا ترلاسه کړل چې د کوچني، میانه او لوی کروندو خالص عواید په ترتیب سره(۲۷۳۸۰)، (۶۶۸۳۸.۶) او (۷۷۴۲۲.۱۵) افغانۍ په اوسط ډول په لاس راغلي دي.

۵. د څېړني په ساحه کې مو دوه د بازار موندني چینلونه و موندل. (تولید کوونکي، عمده پروش ، پرچون پروش، مصرف کوونکي) او (تولید کوونکي، عمده فروش، تجار).

۶. د غنمو په تولید کې عمده ستونزې عبارت دي، له د اوبو کموالی (۷۶.۶۶٪)، کیمیاوي درملو بې کیفیتي( ۷۳.۳۳٪ )، د کروندګرو عامه پوهاوی (۶۵٪)، د کیمیاوي کود ګرانښت( ۶۳.۳۳) او آفتونه، لکه خزندې(۶۱.۶۶٪).

## اخځلیکونه


1. پوهنیار عتیق الله(۱۳۸۵ )هـ ش.ګټور فصلونه، کندهار پوهنتون، کرهنې پوهنځی.ص .۹-۱۱.
2. سمون ( ۲۰۲۳ ) م. پژوآک. د ریحانو بوټې.ص . ۲۱-۳۴.
3. Ahmad, A., Kumar, D., Majadidi, N., Rafi, B., and Wasifhy, M. K. (2017). Intrgrated Farming Systm for Helmand Province, Afghanistan, *International Journal of Advanced Education and Research, 2*(5) 62-67.
4. Aldarkazali, P,. Jan, R,. Jain, K,. (2019). An Appraisal of Basil and Prices on Different Farms in Punjab. *Agricultural Situations in India,* 47 (10):763-773.
5. Andre, M,. Odair, A,. Nilonborlina, M., Lauro, E., Rttadcassia, Z., Eduardo mattoso, D., Andrear rocha, D., Marianequaglia, P., (2008). Basil Plants Growth and Essential Oil Yield in Aproduction System With Successiv, *Journal of Bragantia, Compinas,* V:67, Paeg 385-389.
6. Baczek, L,. Kumar, A,. and Randhir, S,. (2019). Basil Production Constraints in Jharkhand. *Agricultural Extension Review*, pp: 26-30.
7. Egata, D. F, (2021). Benefit and use of Sweet Basil (Ocimum Basilicum l) In Ethiopia: -A Review. *Journal of Nutrition and Food Processing , 4*(5), Paeg 1_3. DOI:10.31579/2637-8914/057.
8. Jeanine M, Davis., (1994). Comparison of Mulches for fresh- market Basi Prodution, *Journal Hortscience,* V: 29(4) paeg 267-268.
9. Kelli, H,. Goel, V,. Tani, h,. (2019). A Study of Market Arrivals and Procurement Pattern of Basil by Public and Private Agencies in Punjab. *Indian Journal of Regional Science*, 32(2):94-102.
10. Mishra, G,. Uddin and B,. Bajpai (2008). Basil Marketing in Eastern Uttar Pradesh: Evidences and Implications. *Agricultural Situation in India,* 42(11):975-980.
11. Onwurah, f., Ojewola, G., and Akomas, S., (2011). Effect of Basil ( Ocimum basilicum L.) On Coccidial Infection In Broiler Chicks, *www.journals.savap. Org.pk 438,* V:(1), Issue 3, Issn:2223-9553.
12. Pahlavan, R,. Omid, M,. and Akram, A,. (2012). The Relationship Between Energy Inputs and Crop Yield in Greenhouse Basil Production, www.SID.ir *J. Agr. Sci. Tech.* Vol. 14: Paeg 1243-1253.
13. Pandey, R.K,. (2014). Yield Gap of Basil in Adoption of New Technology by the Farmers in Plateau Region. *The Bihar Journal of Agricultural Marketing.* 9(2):155-162.
14. Sakdasri, g,. Dwivedi, S,. and N. Singh (2019). A Study of Resource Use Efficiency of basil Crop in Agra District. *Journal of Agriculture and Scientific Research,* 36(1/2): 14-18.
15. Sakdasri, w,. Ngamprasertsith, S,. Sooksai, S,. Noitang, S,. Sukaead, W,. Sawangkeaw, R,. (2019). Defatted fiber produced from lemon Basil (Ocimum citriodorum Vis.) seed with supercritical $CO_2$: Economic analysis. *Journal homepage:www.elsevier.com/locate/indcro* , *Industrial Crops & Products* , Paeg 188–195 .
16. Thakur, A,. Rawat, A. K,. Thakur, T., and Thakur. (2014). Economic Analysis of Plant Nutrient Sources on Sweet Basil (Ocimum basilium L) Economic Affairs: *Journal of Nutrition and Food Processing,* V. 59 (Special Issue): 837-841.
17. Nguyen,T., (1989). Top ten Basil Production In The World,*journal Vinut Poods and Beverage,* 8(6), 5-21.

# Economic Analysis of Basil Production Cost, Gross Return, Net Return and Marketing Channel in Babaji District of Helmand Province

Dr. Ali Ahmad[1*] and Amanullah Niazai[2]

[1]Assistant Professor, Agricultural Economics and Extension Department, Agriculture Faculty, Helmand University

[2]Lecturer, BBA Department, Economics Faculty, Bost University

Corresponding Author Email: aada.aliahmad@gmail.com

## Abstract

This Study was conducted in the year 1402 under the title of economic anlysis of basil production in Helmand Province. The main aim of the research is to determine the cost of basil production, to analyze the gross and net income, to find the marketing channels of basil and to suggest the obstacles and solutions in the production of basil. For the study, (60) respondents were randomly selected as well as five villages were randomly selected to obtain primary information from the respondents (growers) through interviews and questionnaires method. We divided their lands into three categories, small (1-2 jerib), medium (2-3 jerib) and large (3-4 jerib) lands. We selected (20) respondents from each category. It is known that the cost of production of small, medium and large farms is (150107), (391485) and (479321) Afghanis respectively. The total income of small, medium and large farms is respectively (441779), (1336772) and (15488443) Afghanis hence found two marketing channels (producer, wholesaler, retailer, consumer) and (producer, wholesaler, trader) water scarcity, low quality of chemicals, lack of public awareness of growers. Government apathy, lack of organized marketing and pest and diseases are some of the common problems they had face.

**Keywords:** Basil, cost of production, gross revenue, net revenue, Marketing channels and problems.

BOST UNIVERSITY

# BOST

Academic & Research National Journal

Volume: 3

Issue: 2

Year: 2025